# دصحابهٔ کرامو خبرې

پښتو



پیشکش:
مجلس المدینة العلمیه (دعوت اسلامی)
ترجمه:
ټرانسلیشن ډیپارټمنټ (دعوت اسلامی)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الۡمُرۡسَلِيۡنَ ط
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ ط بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ط

# د صحابهٔ کرامو خبرې

دعائے امیرِ اهلِسنّت!: یا الله پاکه! څوک چې دا رساله "د صحابهٔ کرامو خبرې" اولولي که واوري، هغوئي ته د خپل خوږ آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، د صحابهٔ کرامو او اهلِ بیتو ریښتونے محبت نصیب کړې او د هغوئي نه د همیشه د پاره راضي شې. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيۡن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

# د دُرُود شریف فضیلت

فرمانِ مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: "څوک چې په ما باندې د جمعې په ورځ او د جمعې په شپه 100 ځله درود شریف اولولي، الله پاک به د هغه 100 حاجتونه پوره کړي، 70 د آخرت او 30 د دُنیا او الله پاک به یوه فرښته مقرره کړي کومه چې به دا درودِ پاک زما قبر ته داسې را اورسوي څنګه چې تاسو ته ډالۍ وړاندې کولے شي، بیشکه زما علم به زما د وصال نه پس هم هغه شان وي څنګه چې په ژوند کښې دے."

(جمع الجوامع، 7/199، حدیث: 22355)

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د صحابۀ کرامو اقوال

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د صحابۀ کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان فرامین د ژوند په زیاتو شعبو کښې زمونږه راهنمائي کوي ځکه چې د دې پاکو هستیانو خبرې د هغه علمي او عملي تربيت او صحبت فيضان دے کوم چې هغوئي د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه زده کړې دي، د هغوئي اقوال د کلونو د تجربو نچوړ وي، راځئ! د صحابۀ کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان يو څو ارشادات واورو او نصيحت ترې حاصل کړو.

## د حضرت ابو عُبيده بِن جَرَّاح رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرامين

✿ که څوک سور سپين وي او که تور، آزاد وي که غلام، عجمي وي که عربي، د چا په باره کښې چې ما ته معلومه شي چې په تقوىٰ او پرهيزګارۍ کښې زما نه زيات دے نو زه دا خوښووم چې زه د هغه د څرمن يوه حصه وے.

(کتاب الزهد لامام احمد، ص203، حديث: 1027)

✿ د حضرت نِمرَان بن مخمر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه روايت دے چې حضرت ابوعُبيده بن جَرَّاح رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د لښکر سره روان وو چې دا ئې اوفرمائيل: "واورئ! ډير سپينو جامو والا د دين په لحاظ سره سخا (ګندا) وي او خپل ځان زيات عزت داره ګڼرونکي ډير (خلق) حقير (کمتر) وي. اے خلقو! نوې نيکۍ

زاړه ګناهونه ختموي. که چرې په تاسو کښې د چا ګناهونه زمکې او آسمانونه ډک کړي او بيا هغه څه نيکي اوکړي نو کيدے شي چې هغه يوه نيکي په هغه ټولو ګناهونو غالبه شي او هغه ختمې کړي.“

(کتاب الزهد لامام احمد، ص203، حديث: 1026)

❁ د حضرت خالد بن معدَان رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه نه روايت دے چې امينِ اُمَّت حضرت ابو عُبيده بن جَرَّاح رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ اوفرمائيل: ”چې د مومن زړه د مرغۍ په شان په ورځ کښې څو څو ځله اوړي راوړي.“ (مصنف ابن ابي شيبه، 174/8، حديث: 5)

## د حضرت عبد الله بِن مَسعُود رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ فرامين

❁ لَا اُلفِيَنَّ اَحَدَكُمۡ جِيفَةَ لَيۡلٍ قُطۡرُبَ نَهَارٍ يعني زه په تاسو کښې داسې يو ګس هم چرې داسې اونه وينم ځوک چې ټوله شپه د بے ساه څيز په شان پروت وي او ټوله ورځ د دنيا ګټلو د پاره منډې ترړې وهي (خو د هغه سره د آخرت بالکل فکر نه وي). (معجم کبير، 152/9، حديث: 8763)

❁ زما د داسې ګس نه سخت نفرت دے څوک چې نه د دنيا په کار کښې مصروف وي او نه ورسره د آخرت څه فکر وي. (حلية الاولياء، 178/1، حديث: 403)

❁ تاسو کښې هر يو ګس ميلمه دے او ميلمه هميشه نه پاتې کيږي هغه ته خامخا رُخصتيدل وي او ستاسو سره چې کوم مال دے دا قرض دے او قرض خپل مالک له ورکول وي. (معجم کبير، 101/9، حديث: 8533)

❀ رياکار د مرګ نه پس هم ريا نه پرېږدي، چا پوښتنه اوکړه هغه څنګه؟ اوئې فرمائيل: هغه غواړي چې زما په جنازه کښې ډېر خلق وي چې داسې زما عزت ( واه واه) کيږي، ريا د مرګ نه پس هم وريسې وي. (مرآة المناجيح، 19/7)

❀ د چا چې خومره وس رسي خپل مال دې هلته کيږدي چرته ئې چې نه چينجې وهلے شي او نه ورته د غل لاس رسي، (يعني د الله پاک په لار کښې ئې صدقه کړېئ) ځکه چې د بنده زړه مال طرف ته متوجه کيږي.

(حلية الاولياء 183/1، حديث: 433)

❀ رښتيا درانه او تراخه لګي خو دروغ سپک او خواږه محسوسيږي او کله لږ شان شهوت د اوګږد غم سبب جوړيږي. (الزهد لابن مبارک، ص98، حديث: 290)

❀ په هغه ذات مې دې قسم وي د چا نه بغير چې بل معبود نشته! په زمکه د ژبې نه زيات بل يو خيز داسې نشته کوم چې د اوګږدې مودې پورې قيد کښې د ساتلو زيات حاجت وي. (معجم کبير، 149/9، حديث: 8744)

❀ په زړه کښې ښه خواهشات هم پيدا کيږي او غلط خيالات هم پيدا کيږي. ځکه نيکي غنيمت اوګڼړئ او اوئې کړئ او په بدئ خپله لمَن مه داغداره کوئ بلکه دا پرېږدئ. (کتاب الزهد لامام احمد، ص469، حديث: 1331 مفهوماً)

❀ د زړه سخت کوونکو خيزونو نه ځان بچ کوئ او د کوم خيز چې په زړه ويره پيدا شي، هغه پرېږدئ. (الورع لامام احمد بن حنبل، ص46)

❀ حافظِ قرآن له پکار دي چې کله خلق اوده وي نو هغه دې د خپلې شپې حفاظت اوکړي (چې په هغې کښې ويخ پاتې شي او د قرآن مجيد تلاوت او د الله پاک عبادت اوکړي هيڅ کله دې ئې هم په غفلت کښې نه تيروي). کله چې خلق خوراک کوي هغه دې د خپلې ورځ خيال اوساتي (يعني روژه دې اونيسي). کله چې خلق خوشحاله وي نو هغه دې خپل غم ياد کړي (يعني د آخرت فکر دې اوکړي). کله چې خلق خاندي نو هغه دې اوښکې بَهيَوي. کله چې خلق يو بل سره ميلاويږي نو هغه دې خاموشه وي او کله چې خلق د تکبر ښکار شي نو هغه دې خشوع و خضوع اختيار کړي. حافظِ قرآن له پکار دي چې هغه ژړوونے، غم زيلے، حکمت او بُردبارئ، علم او اطمينان والا وي. او هغه له پکار دي چې هغه خُشک رُو، غافل، شور کوونکے، چغې وهونکے او سخت مزاجه نه وي. (کتاب الزهد لامام احمد، ص183، حديث:892)

❀ حضرت عبد الرّحمٰن بن حَجِيره رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ د خپل والد صاحب نه روايت کوي، حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ به چې کله د خلقو سره کښيناستلو نو فرمائيل به ئې: "اے خلقو! د شپو او ورځو تيريدو سره ستاسو عمرونه هم کميږي. ستاسو اعمال ليکلے کيږي. مرګ به ناڅاپه راځي. بس څوک چې د نيکئ فصل اوکري، ډير زر به هغه په شوق اوريبي او څوک چې د بدئ پټے اوکري نو هغه به په پښيمانتيا سره ريبي. هر يو کَس به خپل کرلے

شوے فصل ربيي. سُستي او ناراستي کوونکے به چرې هم د خپل عمل په ذريعه مخکښې نه شي او په حرص او لالچ کښې اخته کَس به صرف خپل قسمت حاصلوي. چا ته چې هم د نيکئ توفيق ميلاؤ شو هغه د الله پاک له طرفه دے او چا چې د بدو نه ځان بچ کړو نو هغه هم د الله پاک په کرم سره دے. مُتَّقـي او پرهيزګاره د عامو خلقو سردار او فُقَها ئې رهنما دي. د دوئي صحبت اختيارول نيکو کښې د زيات والي سبب دے. (کتاب الزهد لامام احمد، ص183، حديث: 889)

يو کَس د هغوئي خوا له راغے او تپوس ئې اوکړو: "اے ابو عبد الرّحمٰن! (دا د حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللہُ عَنْہُ کنيت دے) ما ته جامِع او نافِع کلمات اوښائې! اوئې فرمائيل: د الله پاک عبادت کوه. د هغه سره څوک شريک مه جوړوه. د قرآن مجيد د احکامو مطابق ژوند تيروه. که چرې يو نا واقفه او نا خوښه کَس هم يوه حق خبره اوکړي هغه قبلوه او که په تا ډير ګران کَس هم څه ناحقه خبره اوکړي هغه رد کوه. (موسوعة لابن ابي الدنيا، 264/7، حديث: 454 مفهوماً)

د حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په خدمت کښې څه زميندار حاضر شو نو د هغوئي په پيرو [يعني غټو] څټونو او صحتمند بدنونو ليدو سره خلق حيران شو (په دې) هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ اوفرمائيل: "تاسو وينئ چې د کافرانو بدنونه صحتمند دي خو زړونه ئې بيمار دي او د مومن بدن که چرې کمزورے هم وي نو د هغه زړه صحتمند او مضبوط وي. په الله پاک مې دې قسم وي! چې

که چرې ستاسو بدن صحتمند وي خو زړه مو مریض وي نو ستاسو حیثیت د الله پاک په نظر کښې د غوشانو د چینجي نه هم کمتر دے."

(کتاب الزهد لامام احمد، ص148، حدیث: 904 مفهوماً)

❁ حضرت عِتریس بن عُرقوب شَیباني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د حضرت عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په خدمت کښې حاضر شو او اوئې وئیل: "هلاک شو هغه کَس چا چې نه د نیکئ حکم ورکړو او نه ئې د بدئ نه منع اوکړه." نو حضرت عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اوفرمائیل: بلکه هلاک خو هغه شو د چا زړه چې نیکي، نیکي او بد، بد اونه ګنړل. (معجم کبیر، 107/9، حدیث: 8564)

❁ صالحین د دُنیا نه رُخصَت شو او شک کوونکي پاتې شو څوک چې نه نیکي پیژني او نه ورته د بدئ پته شته. (معجم کبیر، 105/9، حدیث: 8552)

❁ یو کَس د حضرت عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په خدمت کښې عرض اوکړو: اے ابو عبدُ الرحمٰن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ! ما ته څه نصیحت اوکړئ: هغوئي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اوفرمائیل: ستا کور دې ستا کفایت اوکړي (یعني بے ضرورته د کور نه مه اوځه) د ژبې حفاظت کوه او خپلې خطاګانې یادوه او اوښکې بَهیَوه. (کتاب الزهد لامام احمد، ص42، حدیث: 130)

❁ (اے خلقو!) تاسو په لمُونځونو، روژو او اجتِهاد کښې د صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان نه وړاندې تلل غواړئ (یاد ساتئ! داسې نشي کیدے ځکه چې)

هغوئي ستاسو نه غوره دي.“ خلقو عرض اوکړو: ” اے ابو عبد الرحمٰن رَضِیَ اللهُ عَنْهُ! د دې څه وجه ده؟“ اوئې فرمائيل: هغوئي به په دنيا کښې ډير زيات زُهد اختيارولو او آخرت کښې به ئې د ټولو نه زيات رغبت ساتلو.

(حلية الاولياء، 185/1، حديث: 438)

❁ زړه د لوښو په شان دي، لِهٰذا دا د قرآنِ پاك نه علاوه د بل څه نه مه ډکوئ. (کتاب الزهد لامام احمد، ص183، حديث: 891)

❁ د چا د ګنهګاريدو د پاره دومره هم کافي ده چې کله هغه ته اووئيل شي: د الله پاک نه اويَريږه، نو هغه خفه شي او وائي: د خپل کار سره کار ساته.

(الکواکب الدرية، 1/1)

❁ هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ به فرمائيل: اے ژبې! ښې خبرې کوه، په فائده کښې به ئې، او وينا مه کوه چې پښيمانتيا [يعني شرميدلو] نه مخکښې به سلامته اوسې. (حسن السمت فی الصمت، ص79)

❁ حَافِظُوا عَلٰٓی اَبْنَآئِکُمْ فِی الصَّلَاةِ يعني د لمونځ په معامله کښې خپلو بچو له توجه ورکړئ. (مصنف عبد الرزاق، 120/4، رقم: 7329)

❁ حيرانتيا ده په سوداګر باندې چې هغه څنګه سلامته پاتې کيدے شي، که چرې خپل څيز خرڅوي نو د هغې تعريفونه کوي او چې د بل چا نه څه څيز اخلي نو د هغې بدې بيانوي. (بهجة المجالس وانس المجالس لابن عبد البر، 136/1)

❁ که زه يوه سکروټه په ژبه اوځټم او هغه مې اوسوزوي کومه چې سوزوي

او نوره پاتې شي کومه چې پاتې شي، هغه زما په نظر کښې د هغې نه ما ته زياته خوښه ده چې کوم کار شوے دے د هغې په باره کښې اووايم: کاش چې داسې نه وے شوے يا د هغه کار په باره کښې اووايم کوم چې نه وي شوے: کاش چې شوے وے. (احياء العلوم، 66/5)

❁ چې کله يو شرابي مړ شي نو هغه خخ کړئ، د هغې نه پس ما په يو لرګي باندې زوړَند کړئ او د هغه قبر اوکنئ، که چرې د هغه مخ د قبلې نه، نه وو اووختے نو ما هم داسې زوړند پرېږدئ. (كتاب الكبائر للذهبي، ص 96)

❁ تر څو پورې چې تاسو په لمُونځ کښې مشغول ئې نو د بادشاه (يعني د الله پاک د رحمت) ور وهئ او څوک چې د بادشاه ور وهي نو د هغه د پاره ور بيرته کيږي. (مصنف ابن ابي شيبه، 360/2، حديث: 10)

❁ (د چا) تعريف يا بدئ بيانولو کښې تادي مه کوئ ځکه چې نن به په تاسو ښه لګيدونکے سبا بد وي او نن بد لګيدونکے به سبا ښه لګي. (حلية الاولياء، 279/4، حديث: 5568)

## د حضرت عبدُ الله ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُما فرامين

❁ حضرت سَعِيد بن جُبَير رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي چې ما حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُما اوليدلو چې هغوئي د خپلې ژبې څوکه په ګوتو کښې نيولې وه او فرمائيل ئې: په تا افسوس دے! ښه خبره کوه چې په دې کښې

ستا فائده ده او د غلطې خبرې نه خاموشه پاتې کېږه، دې کښې ستا سلامتيا ده.“ کتونکې د دې وجه اوپوښتله نو هغوئې اوفرمائيل: ”ما ته خبر رارسيدلے دے چې د قيامت په ورځ به انسان ته د خپلې ژبې په وجه د تولو نه زيات نقصان رسي.“ (کتاب الزهد لامام احمد، ص206، حديث: 1047)

✿ اے ژبې! ښې خبرې کوه، ستا پکښې فائده ده او د غلطې خبرې نه چپ پاتې کېږه په سلامتيا کښې به اوسې. (حسن السمت في الصمت، ص80)

✿ کله چې درهم او دينار جوړ کړے شو نو ابليس دا اونيول او د خپلو سترګو سره ئې اولګول او اوئې وئيل: ”ته زما د زړه خوراک او د سترګو يخ والے ئې. زه به ستا په ذريعه خلق سرکشه او کافران کووم او ستا په وجه به زه خلق دوزخ ته بوځم. زه د هغه کَس نه خوشحاله يم څوک چې ستا په مينه کښې اخته شي او ستا غلامي شروع کړي.“ (صفة الصفوة، 384/1، الرقم: 119)

✿ کوم قوم کښې چې هم ظلم ظاهرېږي په هغوئې کښې زيات مرې کيږي.
(التمهيد لابن عبد البر، 262/10، تحت الحديث: 755)

✿ حضرت ابو غَالِب خَلجي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيانوي: ما حضرت عبدُالله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنهُما په دې فرمائيلو واوريدو: ” تاسو فرائض ادا کول په خپل ځان باندې لازمي کړئ او الله پاک چې په تاسو خپل کوم حقونه مقرر کړي دي هغه ادا کړئ او په هغې د الله پاک نه مدد غواړئ ځکه چې هغه

پروردګار چې کله په يو بنده کښې صِدقِ نيت او د ثواب طلب اووينې نو د هغه تکليفونه لرې کوي او هغه مالک دے چې څه اوغواړي کوي ئې.“
(حلية الاولياء، 401/1، حديث: 1151)

❁ بيشکه الله پاک د هر مومن او فاسِق رزق ليکلے دے. بس که چرې د حلال رزق ميلاويدو پورې صبر اوکړي نو الله پاک ئې ورته عطا کوي او که چرې د بے صبرئ نه کار واخلي او حرامو طرف ته ورځي نو الله پاک د هغه په حلال رزق کښې کمے پيدا کوي. (حلية الاولياء، 401/1، حديث: 1152)

❁ اَيقِظُوا الصَّبِيَّ يُصَلِّي، وَلَو بِسَجدَةٍ يعني ماشوم د لمُونځ د پاره رابيداروئ که يوه سجده ولې اونکړي. (مصنف عبد الرزاق، 120/4، رقم: 7329)

❁ د قيامت په ورځ به هغه خلق جنَّت طرف ته رابللے شي څوک چې په هر حالت کښې د الله پاک شکر ادا کوي. (کتاب الزهد لابن مبارک، ص 68، حديث: 206)

❁ د جنَّت د زمکې وارثان هغه خلق دي کوم چې پينځه واړه لمُونځونه د جَمعې سره ادا کوي. (حسن التنبه، 209/3)

## د حضرت امام حَسَن مُجتبیٰ رَضِيَ اللهُ عَنهُ فرامين

❁ د ټولو نه لويه عقلمندي پرهيزګاري او د ټولو نه غټه بے وقوفي فِسق او فُجور (يعني ګناه او نافرماني) ده. (مصنف ابن ابي شيبه، 277/7، حديث: 165)

❀ اے ابنِ آدم! د خپل وروړ سره حسد مه کوه ځکه چې که چرې الله پاک د هغه د عِزّت د پاره هغه نعمت هغه ته عطا کړے وي نو چاله چې الله پاک عزت ورکړے وي نو د هغه سره حسد مه کوه او که په بله څه وجه ئې ورته عطا کړے وي نو د هغه سره حسد ولې کوې د چا ځائے چې دوزخ دے. (الزواجر عن اقتراف الکبائر، 116/1)

❀ حیرانتیا ده په انسان باندې چې هره ورځ یو یا دوه ځله په خپل لاس ناپاکي وینځي بیا هم د زمکې او آسمان بادشاه سره مقابله (تکبر) کوي.

(الزواجر عن اقتراف الکبائر، 149/1)

❀ حضرت امام حسن رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ یوه ورځ یو مالداره په تکبر سره په ګرځیدلو اولیدو نو هغه ته ئې اوفرمائیل: اے بے وقوفه! په دومره تکبر سره کوم خوا ګورې؟ آیا هغه نعمتونو ته ګورې د کومو چې دې شکر نه دے ادا کړے که هغه نعمتونو ته ګورې د کومو ذکر چې د الله پاک په حکمونو کښې نشته. کله چې هغه دا خبره واوریده نو د عذر وړاندې کولو د پاره حاضر شو. هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ ارشاد اوفرمائیلو: ما ته معذرت مه کوه بلکه د الله پاک په دربار کښې توبه اوکړه آیا تا د الله پاک دا فرمان نه دے اوریدلے:

وَلَا تَمۡشِ فِی الۡاَرۡضِ مَرَحًا ۚ اِنَّكَ لَنۡ تَخۡرِقَ الۡاَرۡضَ وَلَنۡ تَبۡلُغَ الۡجِبَالَ طُوۡلًا

(پ15، بني اسرائيل: 37) [مفهوم] **ترجمهٔ كنز الايمان:** او په زمكه د تكبر سره مه ګرځه بيشكه ته به هيڅ كله هم زمكه اونه شلوې او هيڅ كله به په اوچت والي كښې غر ته اونه رسې. (الزواجر عن اقتراف الكبائر، 149/1)

## د حضرت امامِ حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرامين

اے خلقو! په ښه اخلاقو كښې رغبت كوئ، په نيكو اعمالو كښې تادي كوئ، چا چې په چا احسان اوكړو او هغه ئې شكر ادا نه كړو نو احسان كوونكي ته به الله پاک د دې بدله وركوي. يقين اوكړئ نيک كار كښې تعريف كيږي او ثواب ميلاويږي، كه چرې تاسو نيكي د يو نارينه په شكل كښې ليدلے شوه نو هغه به مو ډيره ښائسته ليدله كومه چې كتونكو ته ښه ښكاري او كه چرې تاسو ملامتيا او بدي ليدے شوے نو ډير بدترينه منظر به مو ليدلو د كومې نه چې زړه نفرت كوي او نظرونه ښكته كيږي. اے خلقو! څوک چې سخاوت كوي هغه سردار وي او څوک چې بُخل [يعني شومتوب] كوي هغه ذليله او رسوا كيږي. زيات سخي هغه ګس دے څوک چې په هغه ګس سخاوت اوكړي د چا چې د دې طمع نه وي. زيات پاک او بهادر هغه ګس دے څوک چې د بدلې اخستلو طاقت لرلو باوجود معاف كړي، زيات صِلهٔ رحمي كوونكے هغه ګس دے څوک چې د تعلق پريښودونكو خپلوانو سره تعلق اوساتي. څوک چې په خپل وررور احسان

اوکړي او د الله پاک رضا اوغواړي، الله پاک په سخته کښې د دې بدله ورکوي او د هغه نه سخت مصيبت لرې کوي. چا چې د خپل مسلمان ورور نه د دُنيا مصيبت لرې کړو الله پاک د هغه نه د آخرت مصيبت لرې کوي او څوک چې په چا احسان اوکړي الله پاک په هغه احسان کوي او احسان کوونکي د الله پاک خوښ دي. ❁ دنيا ښه او نفيسه [يعني پاکه] ګنړلې کيږي خو د الله پاک ثواب ډير زيات او نفيس [يعني پاک] دے. ❁ رزق په تقدير کښې تقسيم شوے دے څکه په ګسب [يعني روزګار] کښې د انسان حرص نه کول ښه دي. ❁ چې مال په دنيا کښې پريښودل دي او تلل دي نو بيا انسان په مال کښې بُخل [يعني شومتوب] ولې کوي؟ ❁ کله چې د تکليف رسولو د پاره يو ګس د چا نه مدد اوغواړي نو د هغه مدد کوونکي او ذليله او رُسوا خلق تول يو شان دي.

(نور الابصار في مناقب آل بيت النبي المختار، ص 152، 153)

## د اُمُّ المُؤمنين حضرت عائشه صديقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرامين

❁ کوم بنده چې خالصې اوبه اوڅښي او هغه بغير د تکليف نه (خيټې ته) لاړې شي او بغير د تکليف نه بهر هم را اوځي نو په دې شکر لازم دے. (کتاب الشکر، ص 162، رقم: 188)

❁ تاسو د افضل عبادت يعني عاجزئ نه غافله يئ. (احياء العلوم، 419/3)

## د حضرت امير معاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرامين

❀ څوک چې زما د يو نعمت سره حسد کوي زه د هغه نه علاوه هر کَس رضا کولے شم ځکه چې حسد کوونکے هغه وخت رضا کيږي کله چې هغه نعمت زما نه ختم شي. (احياء العلوم، 233/3)

❀ د ټولو نه لوئي سردار هغه کَس دے چې کله د هغه نه څه څيز اوغوښتلے شي نو د ټولو نه زيات سخاوت کوونکے وي، په محافلو کښې د حُسنِ اَخلاق په لحاظ سره د ټولو نه ښه وي او چې کله د هغه سره بد سلوک اوشي نو هغه د حِلم او بُردبارئ مُظاهَره اوکړي. (تاريخ ابنِ عساکر، 186/59، رقم: 7510)

❀ کوم کَس چې د تجربو نه فائده وانخلي هغه لوړ [اعلیٰ] مقام ته نشي رسيدے. (احياء العلوم، 230/3)

## د حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرامين

❀ کله چرې د انسان په غوږونو کښې ويلې شوې سيسه واچولے شي نو د هغه د پاره دا د اذان اوريدو سره جمات ته د نه تللو نه زيات بهتر دي.

(مصنف ابن ابي شيبه، 380/1، حديث: 4)

❀ په کومو کورونو کښې چې د الله پاک ذکر کيږي د آسمان اوسيدونکي هغه کورونو ته داسې ګوري څنګه چې تاسو ستورو ته ګورئ.

(مصنف ابن ابي شيبه، 236/8، حديث: 10)

✿ د حضرت عَطاء رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه نه روايت دے چې حضرت ابوهريره رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ اوفرمائيل: ”چې کله تاسو 6 خيزونه اووينئ نو که چرې ستاسو ژوند ستاسو په قبضه کښې وي نو هغه پرېږدئ. په دې وجه زه د مرګ ارمان کووم د دې وېرې نه چې چرې د دې خيزونو زمانے ته پاتې نشم. کله چې بے وقوفه حکمران وي. فيصلې خرخيږي. ځانونه محفوظه پاتې نه شي. خپلولي ماته کړے شي [يعني پرېښودے شي] د قوم محافظان د قوم لوټ ماران جوړ شي او خلق قرآن مجيد د سندرو په شان لوستل شروع کړي.“

(تاريخ ابن عساكر، 379/67. مصنف عبد الرزاق، 322/2، حديث: 1119)

✿ د حضرت ابو اَسود رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه نه روايت دے چې يو کَس په مدينه منوره کښې کور جوړ کړو. د کور جوړولو نه پس يوه ورځ هغه د خپل کور په دروازه کښې ولاړ وو چې حضرت ابو هريره رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د هغه په خوا تيريدلو نو هغه عرض اوکړو: ”اے ابو هريره رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ! لږ اودريږئ! او ما ته اووائې چې زه د کور په دروازه څه اوليکم؟“ هغوئې رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ اوفرمائيل: اوليکله ”کورونه د ورانيدو د پاره وي، اولاد د مړه کيدو د پاره او مال د وارثانو د پاره جمع کولے شي.“ هغه وخت هلته يو اَعرابي (يعني د کلي اوسيدونکے کَس) هم موجود وو. هغه اووئيل: ”شيخ! تا ځومره غلطه خبره اوکړه.“ د کور مالک اَعرابي ته اووئيل: ” هلاک شې! دا د ټولو انبياؤ سردار

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابي حضرت ابو هريره رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ دے."

(تاريخ ابن عساكر، 374/67)

## د حضرت عبد الله بن عمر رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُما فرامين

❀ چې کله ته ماښام کړې نو د راتلونکي سحر انتظار مه کوه او چې کله سحر کړې نو د ماښام انتظار مه کوه او د صحت په حالت کښې د بيمارۍ د پاره او ژوند کښې د مرګ د پاره تياري اوکړه. (بخاري، 223/4، حديث: 6416)

❀ حضرت عبد الله بن عمر رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُما فرمائي: يو ګس تر هغه وخته پورې کامل عالِم نشي کيدے تر څو پورې چې هغه د خپل ځان نه د غوره سره حسد کول، د ځان نه کمتره سپک ګڼړل او د علم په بدله کښې مال غوښتل پرې نه کړدي. (الكواكب الدرية، 166/1)

❀ د انسان اندامونو کښې د ټولو نه زياته ژبه د دې خبرې حقداره ده چې هغه (د فضول خبرو نه) پاکه اوساتلے شي. (مصنف ابن ابي شيبه، 237/6، حديث: 7)

❀ يُعَلَّمُ الصَّبِيُّ الصَّلَاةَ اِذَا عَرَفَ يَمِينَه مِن شِمَالِه يعني کله چې ماشوم په ښي او ګس کښې فرق شروع کړي نو هغه ته دې د لَمانځه تعليم ورکړے شي.

(مصنف ابن ابي شيبه، 382/1، رقم: 5)

❀ که چرې زما ګوَته په شرابو کښې اولګي نو هغه د خپل لاس سره ساتل زما خوښ نه دي. (مصنف ابن ابي شيبه، 509/5، حديث: 6)

✿ په ښه کارونو کښې د يو بل سره مشوره کوئ خو په بدو کارونو کښې مشوره مه کوئ. (مصنف ابن ابي شيبه، 176/8، حديث: 16)

✿ انسان چې په دنيا کښې يو نعمت بيا مومي نو د الله پاک سره د هغه درجو کښې کمے راځي. که هغه د الله پاک په بارګاه کښې هر څومره عزت ولې نه لري. (مصنف ابن ابي شيبه، 174/8، حديث: 2)

✿ يو بنده تر هُغه وخته پورې د ايمان حقيقت ته نشي رسيدے تر څو پورې چې خلق په دين د هغه اِستِقامت [يعني ثابت قدمي] ليدو سره هغه بے وقوفه اونه ګڼړي. (مصنف ابن ابي شيبه، 175/6، حديث: 4)

✿ هغه کَس عالِم نشي کيدے کوم چې د خپلو مشرانو سره حسد کوي، واړه سپک ګڼړي او علم د دُنيا ګټلو ذريعه جوړوي.
(حلية الاولياء، 379/1، حديث: 1067)

✿ څوک چې د چا پيروي کول غواړي هغه دې د اَسلافو پيروي اوکړي کوم چې د حضور نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابه دي. دا د دې اُمَّت غوره خلق دي. د دوئي زړونه نيکئ او خير کښې د ټولو نه زيات وړاندې دي. د دوئي علم د ټولو نه فراخه دے او په هغوئي کښې بناوټ او نمائش نه وو. دا هغه پاکې هستئ دي کوم چې الله پاک د خپل محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صحبت او د دين د تبليغ د پاره منتخب کړه. څکه تاسو د هغوئي په اخلاقو

او عادتونو او د هغوئي په طريقو ځئ ځکه چې هغوئي د حضرت سيِّدُنا محمدِ مصطفٰی، احمد مجتبٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابه دي. په ربِّ کعبه مې دې قسم وي! دغه خلق د هدايت په سيدها لار روان وو. اے بنده! صرف د خپل بدن تر حده پورې د دُنيا سره تَعَلُّق قائم اوساته او خپل زړه او دماغ د دې [دُنيا] نه لرې اوساته ځکه چې ستا د نجات دار و مدار ستا په عمل دے. ځکه ته د اوس نه د مرګ تيارے کوه چې ستا انجام او خاتمه ښه وي.

(حلية الاولياء، 378/1، رقم: 1065)

✿ د حضرت قَتَاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې د حضرت عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه چا اوپوښتل: " آيا د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان به خندل؟" هغوئي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اوفرمائيل: "آو جي! حالانکه ايمان د هغوئي په زړونو کښې د غرونو نه هم زيات قوي او مضبوط وو."

(جامع معمر بن راشد مع المصنف لعبد الرزاق، 286/10، حديث: 20837)

✿ يو کَس د حضرت عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه پوښتنه اوکړه: "څنګه چې د لَآاِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ (يعني اِسلام) نه بغير هيڅ يو عمل نفع نه ورکوي نو آيا مسلمان ته يو عمل هم نقصان نه شي رسولے؟" هغوئي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اوفرمائيل: (نيکو والا) ژوند تيروه او په دوکه کښې مه پريوځه (چې مسلمان ته يوه بدي هم نقصان نشي رسولے).

(جامع معمر بن راشد مع المصنف لعبد الرزاق، 258/10، حديث: 20720)

## د حضرت ابو مُوسٰی اَشعَري رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرامين

✿ انسان په دې دنيا کښې د ژوندې پاتې کيدو سره صرف د څه پريشانه کوونکې آفت او مصيبت يا د څه فتنې انتظار کوي.

(کتاب الزهد لابن مبارک، ص3، حديث: 5)

✿ حضرت قَسَامَه بن زُهَير رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: يو ځل په بَصره کښې حضرت ابو موسٰی اَشعَرِي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ مونږ ته خطبه راکوله، ارشاد اوفرمائيلو: " اے خلقو! ژاړئ او که ژړا نه درځي نو ژړا غوندې شکل جوړ کړئ ځکه چې (د نافرمانئ په سبب دوزخ ته تلونکي) دوزخيان به دومره ژاړي چې په ژړا ژړا به د هغوئي اوښکې ختمې شي. په آخره کښې به هغوئي د وينې اوښکو سره ژړا شروع کړي او دومره اوښکې به اوبَهيَوي چې که چرې د هغوئي په اوښکو کښې کشتئ پريښودے شي نو روانے به شي پکښې".

(کتاب الزهد لامام احمد، ص215، حديث: 1103)

✿ بيشکه د قيامت په ورځ به لمَر د خلقو په سرونو ولاړ وي او اور به اورَوي او د دوئي ټول اعمال به د دوئي د پاره سورے جوړيږي يا به ئې په غرمو سوزوي".

(مصنف ابن ابي شيبة، 203/8، حديث: 3)

## د حضرت مُعاذ بن جَبَل رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمان

✿ جنتيان به د يو څيز ارمان هم نه کوي خو صرف د هغه ساعت [ارمان]

به کوي کوم چې د الله پاک د یاد نه په غفلت کښې تیر شوے وي.

(احیاء العلوم، 392/1)

## د حضرت ابُو دَردَاء رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرامین

❁ څوک چې په خندا جَنَّت ته تلل غواړي هغوئي له پکار دي چې خپله ژبه همیشه په ذکرُ الله لمْده ساتي. (طبقات الصوفیاء، 117/1)

❁ کوم بنده چې مرګ په کثرت سره یادوي د هغه په خوشحالئ او حسد کښې کمے راځي. (الزواجر عن اقتراف الکبائر، 116/1)

❁ د ایمان اوچت والے د الله پاک په حکم صبر کول او په تقدیر راضي کیدو کښې دے. (احیاء العلوم، 67/5)

❁ د دې خبرې نه اُویَریږه چې د مؤمنانو زړونه ستا نه نفرت اوکړي او تا ته د هغې پته هم نه وي.

(کتاب الزهد لابي داؤد، ص 205، حدیث: 229)

❁ تر څو پورې چې تاسو د نیکانو خلقو سره محبّت ساتئ، په نیکئ به یئ او ستاسو په باره کښې چې کله څوک حق خبره بیان کړي هغه منئ، ځکه چې حق پیژندونکے په دې باندې د عمل کوونکي په شان وي.

(شعب الایمان، 503/6، حدیث: 9063)

## د حضرت حُذَيفه بن يَمان رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرامين

✿ حضرت حُذَيفه بن يَمان رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ اوفرمائيل: د فتنو د ځايونو نه بچ شئ. عرض اوکړے شو چې هغه کوم دي؟ اوئې فرمائيل: د حکمرانانو دروازے. تاسو کښې څوک چې د حاکم دروازے ته ځي نو د هغه په دروغو د هغه تصديق کوي او د هغه په باره کښې هُغه څه وائي کوم چې په هغه کښې نه وي. (احياء العلوم، 177/2)

✿ د دين ګنهګار او په ژوند کښې بے وسه او بد حاله ډير خلق به صرف د خپل سخاوت په وجه جنّت ته داخل شي. (التذكرة الحمدونية، 299/2)

## د حضرت عَمرو بن عاص رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرامين

✿ د قرآنِ پاک هر آيتِ مبارکه د جنّت يوه دَرَجه او ستاسو د کورونو ډيوه ده. (احياء العلوم، 363/1)

✿ چا چې قرآن پاک اولوستلو هغه نبوّت د خپلو دواړو اړخونو ترمينځه جمع کړو خو صرف دا چې د ده په لور وحي نه کيږي. (احياء العلوم، 363/1)

✿ خبرې کول د دوائي په شان دي، چې لږ وي نو فائده به ورکوي او که زياتي وي نو نقصان ورکوونکي ثابتيږي. (حسن السمت في الصمت، ص 100)

## د حضرت عبد الله بن عَمرو بن عاص رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرامين

❀ د هر بد ژبي [يعني بد زبانه] جنّت ته دا خليدل حرام دي.

(حلية الاولياء، 1/359، رقم: 982)

❀ د مومن په بدن کښې يو اندام داسې نشته کوم چې الله پاک ته د ژبې نه زيات خوښ وي، د دې په وجه به الله پاک هغه جنّت ته داخل کړي او د غير مسلمه په بدن کښې داسې هيڅ اندام نشته کوم چې د الله پاک ته د ژبې نه زيات ناخوښه وي، په دې وجه به الله پاک هغه دوزخ ته داخل کړي. (حلية الاولياء، 1/280)

## د حضرت ابوذر غفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرامين

❀ څوک چې جنّت ته تلل غواړي هغه له پکار دي چې د دنيا په مال او زر کښې رَغبت نه ساتي. (حلية الاولياء، 1/219، رقم: 542)

❀ د دُعا د قبليدو د پاره د نيکۍ حيثيت داسې دے لکه څنګه چې په اينګولي (ترکارۍ) کښې د مالګې دے. (مصنف ابن ابي شيبه، 7/40، حديث: 4)

❀ حضرت ابُوذَر غفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ حضرت سَلَمه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ته اوفرمائيل: اے سَلَمه! د بادشاهانو دروازو ته مه ځه ځکه چې تا ته به د هغوئي د دنيا نه هيڅ ميلاو نه شي خو هغوئي به د دې نه افضل يعني ستا د

دين نه واخلي. (مصنف ابن ابي شيبه، 698/8، حديث: 79)

✿ د دوؤ درهمو والا حساب به د يو درهم والا د حساب نه سخت وي (يعني څومره چې مال زيات وي دومره به ئې وبال زيات وي).

(مصنف ابن ابي شيبه، 183/8، حديث: 3)

✿ حضرت ابوذر غِفاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د کعبې په خوا کښې اودريدلو، اوئې فرمائيل: اے خلقو! زه جُندُب غِفَاري يم. د خپل شفقت او نصيحت کوونکي وررور خوا ته راجمع شئ! ټول خلق راجمع شو نو هغوئي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اوفرمائيل: "چې تاسو کښې څوک په سفر ځي نو آيا هغه زادِ راه (يعني په سفر کښې په کار راتلونکي ضروري سامان) ځان سره نه وړي په کومو چې ضرورتونه پوره شي او خپل منزل ته اورسي؟" خلقو عرض اوکړو: "ولې نه!" اوئې فرمائيل! "نو واورئ! د قيامت سفر د ټولو نه اوګږد دے. د دې د پاره ښه پوره د لارې ضروري سامان تيار کړئ کوم چې ستاسو پکار راشي." حاضرو خلقو پوښتنه اوکړه: "هغه څه دي چې په دې کښې زمونږه پکار راشي؟" اوئې فرمائيل: "د غټو غټو سختو کارونو نه د بچ کيدو د پاره حج اوکړئ. د قيامت د ورځې د ګرمئ او لمَر نه د حفاظت د پاره د سختې ګرمئ ورځو کښې روژې اونيسئ. د قبر د ويرې نه د خلاصي حاصلولو د پاره د شپې په تياره کښې لمُونځ ادا کړئ. د حساب د ورځې د پيشئ د پاره

ښې خبرې کوئ او د بدو نه ځان ساتئ. د قيامت د سختو نه د بچ کيدو د پاره خپل مال صدقه کړئ. دنيا کښې صرف دوه قسمه محفل اختياروئ يو هغه چې د آخرت غوښتلو د پاره وي او دويم هغه چې د حلالو غوښتلو د پاره وي او د دې نه علاوه دريم محفل مه اختياروئ چې په دې کښې ستاسو د پاره هيڅ فائده نشته بلکه هغه به ستاسو د پاره نقصان دِه ثابت شي. دغه شان خپل مال هم په دوؤ برخو کښې تقسيم کړئ، يوه حصه په خپل کور والؤ خرچ کړئ او دويمه د الله پاک په لاره کښې خرچ کړئ او د خپل آخرت د پاره ذخيره واخلئ. د دې نه علاوه دريمه حصه مه جوړوئ چې په دې کښې سراسر نقصان دے، فائده پکښې هيڅ نشته.“ د دې نه پس هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ په اوچت آواز اوفرمائيل: ” اے خلقو! د حرص (نه بچ شئ چې په دې) کښې ستاسو د پاره هلاکت دے ځکه چې دا چرې هم نه ختميږي او نه دا تاسو پوره کولے شئ.

(اخبار مكة للفاكهي، 134/3، حديث: 1904 صفة الصفوة، 301/1، الرقم: 64)

✿ حضرت ابوذر غفاري رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ حضرت اَحنَف بن قيس رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ته اوفرمائيل: کله چې عطيه [يعني ډالۍ] په خوشحاله زړه سره ميلاويږي اخله ئې او کله چې هغه ستا د دين قيمت جوړ شي نو پريږده ئې.

(احياء العلوم، 170/2)

## د حضرت سلمان فارسي رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ فرامين

✿ دنيا کښې د خلقو په يو بل ظلم کول د قيامت په ورځ د تيارې سبب دے. (حلية الاولياء، 1/260، رقم: 640 ملخصاً)

✿ الله پاک چې کله د چا د ذليله او رسوا کولو يا هلاك کولو اراده لرې نو د هغه نه حيا واخلي. بيا به تاسو هغه ګَس په دې حال کښې بيامومئ چې د خلقو نه به نفرت کوي او خلق به د هغه نه نفرت کوي.

(مکارم الاخلاق، ص94، رقم: 113)

✿ حضرت مَيمون بن مِهران رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه بيانوي چې يو ګَس د حضرت سلمان فارسي رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو: ما ته نصيحت اوکړئ. اوئې فرمائيل: خبرې مه کوه. هغه عرض اوکړو: څوک چې د خلقو په مينځ کښې اوسيږي د هغه د خبرو نه بغير بله لار نشته: اوئې فرمائيل: که خبرې کوې نو حق خبرې کوه يا چپ پاتې کيږه.

(تاريخ ابن عساكر، 21/449)

✿ د حضرت جَعفَر بن بُرقَان رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه نه روايت دے چې حضرت سلمان فارسي رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ اوفرمائيل: ما 3 خبرې خندوي او 3 مې ژړوي. خندوونکې 3 څيزونه دا دي: حيرانتيا ده په هغه کس باندې کوم چې په دنيا پسې اميدونه تړلي وي حالانکه مرګ هغه لټوي، او حيرانتيا ده په

هغه غافله کَس باندې کوم چې د غفلت نه، نه بيداريږي او په هغه چا هم حيرانتيا ده څوک چې په ډکه خُله خاندي حالانکه هغه ته دا معلومه نه ده چې د ده رب د ده نه راضي دے او که ناراضه. ژړوونکي 3 څيزونه دا دي: د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان جدائي، د ځنکدن تکليفونه راتلل او د الله په دربار کښې حاضريدل، حالانکه ما ته معلومه نه ده چې دوزخ ته به غورزيږم اوکه جنَّت به راته نصيب شي.

(کتاب الزهد لامام احمد، حديث: 837، ص 176)

حضرت طارِق بن شِهَاب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما د حضرت سلمان فارسي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خوا ته شپه تيره کړه چې د هغه عبادت اووينم. کله چې د شپې آخرئ حصه شوه نو هغوئي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پاڅيدلو او لمونځ ئې ادا کړو ګويا ما چې څه ګنړل (چې هغوئي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ توله شپه عبادت کوي) هغه شان مې اونه ليدل. کله چې ما دا خبره هغوئي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته بيان کړه نو اوئې فرمائيل: "د دې پينځه واړو لمونځونو پابندي اوکړه نو دا به په مينځ کښې د کيدونکو ګناهونو کفاره شي تر څو چې ګناهِ کبيره نه وي شوې." نور ئې اوفرمائيل چې "خلق چې د ماسختن لمونځ ادا کړي نو درې قسمه شي: ﴿1﴾ هغه خلق د چا د پاره چې شپه وبال جوړه شي او هغوئي د دې نه هيڅ فائده

وانخلي. ﴿2﴾ د بعضې خوش قسمتو د پاره د نیکۍ سبب جوړه شي او هغه د وبال نه بچ کوي او ﴿3﴾ د بعضې نادانانو د پاره دا شپه نه فائده ورکوي او نه وبال جوړيږي. د چا د پاره چې وبال جوړيږي او د فائدې نه خالي وي دا هغه خلق دي څوک چې د شپې تياره او د خلقو غفلت غنيمت اوګڼړي او په زړه ورتيا سره ګناهونو کښې شپه تيروي او څوک چې د شپې تياره او د خلقو غلفت غنيمت اوګڼړي او شپه کښې د عبادت د پاره پاځي دا شپه د هغوئي د پاره فائده منده ده، وبال نه ده او څوک چې لمُونځ اوکړي او اوده شي د هغوئي د پاره نه فائده منده ده او نه وبال. ځکه ته د غفلت نه ځان ساته، د الله پاک د عبادت اراده کوه او په دې هميش والے اختيار کړه.

(مصنف عبد الرزاق، 416/2، حديث: 4749)

✿ د هر يو کَس يو باطن وي او يو ظاهر، څوک چې خپل باطن ښائسته کړي الله پاک د هغه ظاهر ښائسته کوي او څوک چې خپل باطن خراب کړي الله پاک د هغه ظاهر هم خرابوي.

(کتاب الزهد لابن المبارک ديليه کتاب الرقائق، حديث: 72، ص 17)

✿ بيشکه عِلم ډير زيات او عُمر ډير کم دے، د دين ضروري عِلم حاصل کړئ او د دې نه سِوا (يعني د دې نه علاوه خيزونه) پريږدئ ځکه چې په دې به ستاسو مدد نه کيږي. (حلية الاولياء، 246/1، رقم: 606)

د حضرت سلمان فارسي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه د داسې ګناه په باره کښې تپوس اوکړې شو د کومې په موجودګئ کښې چې يوه نيکي هم فائده نه ورکوي نو هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ارشاد اوفرمائيلو: ”هغه ګناه تکبر دے.“

(الزواجر عن اقتراف الكبائر، 1/149)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## نیک او لمونځ ګزاره جوړیدو د پاره

هر زیارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښار کښي کیدونکي د **دعوتِ إسلامي** د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښي د رِضائے إلٰهي د پاره ښو ښو نیتونو سره ټوله شپه تیروئ ❁ د سُنّتو د تربیَت د پاره **مَدَني قافِلو** کښي عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د **"فِکرِ مَدینه"** په ذریعه د **مَدَني إنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په ېکم تاریخ ئې د خپل ځائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: **"ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د إصلاح کوشش کول دي."** إِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې إصلاح د پاره په **"مَدَني انعاماتو"** عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار **"مَدَني قافِلو"** کښې سفر کول دي. إِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ





فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدینه (کراچۍ)
UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213
Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com